# د افغانستان د اقتصادي راپور لنډيز

## د ۲۰۱۷ کال نوامبر

د هېواد امنيتي وضعيت د خرابېدو په حال کې دی. داسې ښکاري، چې جګړې او زياتېدونکې شخړې د هغه مشتبثينو او د مستهلکينو باور د بېرته ترلاسه کولو مخنيوی کوي، کوم چې په ۱۳۹۳ کال (۲۰۱۴ زېږديز) کې يې د امنيتي مسوولېتونو د لېږد پړاو څخه وروسته يې له لاسه ورکړی دی. اقتصادي وده د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو په پرتله، چېرې، چې افغانستان له ۲۰۰۳ زېږديز کال وروسته تر ټولو ټيټه اقتصادي وده يې تجربه کړې ده؛ لږ څه لوړه شوې ده. د ۲۰۱۷ زېږديز کال د لومړيو شپږو مياشتو تقريبي ارقام ښيي، چې اقتصادي فعاليتونه اوس هم په ټيټه کچه کې دي. دا په داسې حال کې ده، چې د متشبثينو باور ــ څنګه چې د متشبثينو د کتنو او د درک د ربعوارو سروې ګانو څخه څرګندېږي ــ د ۲۰۱۷ زېږديز کال په لومړيو شپږو مياشتو کې څه نا څه ښه شوی؛ خو بيا هم د تېر کال د همدې مودې په پرتله د متشبثينو باور ټيټ دی.

داسې وړاندوينه کيږي، چې په ۲۰۱۷ زېږديز کال کې د اقتصادي ودې کچه ۲،۶ سلنې پورې ورسيږي، چې د تېر کال په پرتله دا ارقام لږ څه زياتوالی ښيي. صنايع به ۲ سلنه پرمختګ وکړي او د خدمتونو په برخه کې وده به ۳،۳ سلنې ته لوړه شي. که څه هم تېر کال د کرنې سکټور په بې ساري ډول ۶ سلنه وده کړې وه، خو سږ کال به د ياد سکټور وده لږ څه پڅه وي او ۱،۵ سلنه به وي.

د انفلاسيون کچه وروسته له هغه، چې د ۱۳۹۵ لمريز کال د د ليندۍ (د ۲۰۱۶ ډسمبر) په مياشت کې ۴،۵ سلنه وه، د ۱۳۹۶ لمريز کال د غويي (د ۲۰۱۷ په مې) مياشت کې ۷،۵ سلنې ته لوړ شوو او د ۱۳۹۶ لمريز کال د وږي (د ۲۰۱۷ په سپټمبر) مياشت کې ۳،۸ سلنې ته را ټيټ شوو. د ۲۰۱۷ کال په لومړيو مياشتو کې د انفلاسيون کچه د خوراکي توکو په ځانګړي ډول د ميوو او سبزيجاتو د بيې د لوړوالي له امله لوړه شوې وه. دې ته په پام سره، چې افغانستان خپل د سوند او د غله جاتو زياته برخه له بهر نه واردوي، نو د سوند توکو او غله جاتو نړيواله بيه په مستقيم ډول پر کورنې قيمتونو باندې د پام وړ اغيز لري. خو د غويي مياشتې راهيسې د سوند او خوراکي توکو په قيمتونو کې لوړوالي به د افغانۍ د پېر او پلور د قيمتونو له امله وي، په داسې حال کې، چې په نړيوال بازارونو کې د توکو بيې ثابتې دي او بدلون يې نه دی کړی.

د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نيمايي کې د سوداګرۍ کسر د توکو د واردولو د لوړوالي له امله زيات شو. په دې موده کې واردات شاوخوا ۹ سلنه ( د کال په پرتله) زيات شو؛ په وارداتو کې د زياتيدو د يوې برخې لامل کولای شوو، چې د ډالرو په وړاندې د افغانۍ د راکړې ورکړې د بيې ۲،۲ سلنې لوړوالی وګڼو، چې د ۲۰۱۶ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۷ کال تر سپټمبر پورې ۲،۲ سلنه لوړ شوی وو. خو د کلنۍ پرتلې پر بنسټ ( د تېرو ۱۲ مياشتو په پرتله)، د راکړې ورکړې د بيې مينځنۍ کچه ثابته پاتې شوې ده. د افغانۍ ارزښت ثابت پاتې کېدل پخوانۍ مودې پورې تړاو لري، څنګه چې په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د افغانۍ د راکړې ورکړې بيه شاوخوا ۱۵ سلنه را ټيټه شوې ده. په هر صورت، د وارداتو زياتوالی کيدای شي، چې د کورنۍ غوښتنې ښکارندوي هم وکړي. له بلې خوا د بهرنې پيسو نا خالصې ذخيرې هم د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر څخه بيا د ۲۰۱۷ کال د اګسټ مياشتې پورې شاوخوا ۷ سلنه لوړې شوې، چې ۷،۸ ميلیارده ډالرو ته رسيږي. د بهرنۍ پيسو يا ارزي ذخيرو دغه ارقام د ۱۲ مياشتو د وارداتو اندول دي. تمه ده، چې جاري حساب ( د ورکړو په بيلانس کې) په ۲۰۱۷ زېږديز کال کې د کورنې ناخالص توليد څخه شاوخوا ۳ سلنه زيات پاتې شي.

په ۱۳۹۳ (۲۰۱۴ز) مالي کال کې په بې ساري ډول د کورنې عوايدو له را ټيټيدو وروسته، اوسمهال د دريم پرله پسې کال لپاره د عوايدو را ټولول په سم ډول ترسره کيږي. ترلاسه شوي ارقام د دې ښکارندوي کوي، چې د ۱۳۹۶ ( ۲۰۱۷ز) مالي کال په لومړيو ۸ مياشتو کې د کورنې عوايدو کچه له ۱۰۴ ميلیاردو افغانيو زياته ده، چې شاوخوا ۱۳ سلنه ( د تېر کال په همدې موده کې) زياتوالی ښيي. عوايد د مالياتي عوايدو او ګمرکي محصول د زياتوالي له امله زيات شوي، چې په ترتيب سره ۱۳ سلنه او ۱۵ سلنه زيات شوي دي. د ۲۰۱۷ کال تر دې مهاله په ښه ډول د عوايدو راټولول کولای شو، چې د دولت لخوا د مالياتو د راټولولو په چارو کې د اوږد مهاله ښه مديريت او پر ټولو د قانون پلي کولو پورې اړوند وګڼو.

د روان کال په لومړيو ۸ مياشتو کې بودجوي لګښتونو د تېر کال له همدې مودې سره يو شان وو. ټول لګښتونه شاوخوا ۱۹۵ ميلیارده افغانۍ وې، چې له دې ډلې څخه ۱۵۰ ميلیارده (۷۷ سلنه) يې عادي بودجه وه. تمه ده، چې د بهرنيانو مالي مرستې له پروګرام سره سم د دولت بودجې ته ورسيږي او داسې ښکاري، چې د عوايدو راټولول به د کلنۍ بودجې موخې

به ترلاسه کړي، په دې ډول د مالي کال تر پایه به د بودجې انډول په متوازن ډول پاتې شي.

که چیري امنیتي اوضاع د اوسنی شرایطو په پرتله خرابه نشي، نو داسې وړاندوینه کیږي، چې په ۲۰۱۸ کال کې د افغانستان د اقتصادي ودې کچه به ۳،۲ سلنې ته لوړه شي. که څه هم دا ارقام د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۵ کلونو په پرتله د ودې زیاتوالی څرګندوي، خو بیا هم د ۲۰۰۳ نه تر ۲۰۱۳ کلونو کې د ۹،۶ سلنې مینځنی کچې اقتصادي ودې په پرتله ډیر ټیټ دی. پر یوه وخت د کورني غوښتنو د کچې لړوالی او د مشتبثینو د باور راټیټیدل له یوې خوا او له بلې خوا د نا امنیو زیاتیدل او له ۲۰۱۴ زیږدیز کال وروسته په افغانستان کې د سیاسي ثبات نشتون د دې لامل شوو، څود اقتصادي ودې کچه راټیټه شي. سربیره پر دې، غیر رسمي معلومات د دې ښکارندوي کوي، چې د مشتبثینو او د مستهلکینو باور څه نا څه مخ په ښه کیدو دی، ځکه د افغانستان او سویلي آسیا حوزې لپاره د امریکا د متحده ایالتونو نوې ستراتیژي له اعلان وروسته؛ د نړیوال ائتلاف د ځواکونو د شتون په اړه ابهام تر یوه بریده لیرې شوی دی.

اقتصادي وده به په مینځ مهال کې پڅه وي، چې تر ۲۰۲۰ زیږدیز کاله پورې به یوازې ۳،۶ سلنې ته لوړه شي. په راتلونکو کلونو کې له دې اندازې څخه زیاته وده د امنیتي وضعیت په ښه والي، سیاسي ټیکاو، د اصلاحاتو په تطبیق کې اوږد مهاله پرمختګ، او د نړیوالو مرستو دوام پورې تړاو لري. اقتصادي وده همدارنګه کیدای شي، چې د مالي مدیریت او د پالیسیو د سمون په برخو کې د یو لړ مشخصو تدابیرو په پلي کولو سره لوړه شي. کیدای شي په دې برخه کې په ښه ډول د بودجې تطبیق، د بودجوي لګښتونو لپاره د زیاتو سرچینو ځانګړي کول، چې زیات کاري ځواک ته اړتیا لري او سیمه بیزه برنامې، چې د ټولنې اړینو خلکو ته رسیږي؛ یادونه وشي. تمه کیږي، چې د بې وزلۍ او فقر کچه به په منځ مهال کې همداراز لوړه پاتې شي، ځکه، چې له یوې خوا د کار لپاره تقاضا خورازیاته ده او له بلې خوا د خدمتونو د وړاندې کولو په وړاندې امنیتي خندونه زیات دي، په داسې حال کې، چې د کاري ځواک شمیر په بې سارې توګه مخ په ودې ده.

د دغه راپور ځانګړې برخه په افغانستان کې د جګړو او نا امنیو په وړاندې د روغتیایي خدمتونو د سیستم په دوام او انعطاف منلو باندې بحث کوي. روغتیایي خدمتونه په دوه ښو وړاندې کیږي، لومړی دا چې روغتیایي خدمات غیر دولتي موسسو ته سپارل کیږي او له دې لارې خلکو ته وړاندې کیږي، او دویمه لار د دولت په واک کې ده، چې په مستقیمه توګه یې خپله دولتي بنسټونه وړاندې کوي. زموږ تحلیلونه دا جوتوي، چې د روغتیایي خدمتونو دغه دواړه ښو کې کوم زیات توپیر شتون نلري، داسې څرګندیږي، چې دواړه سیستمونه اغیزمن دي. د راپور دغه برخه دا په ډاګه کوي چې: (الف) د ټل پاتې امنیتي ناخوالو او وسلوالو نښتو په وړاندې د روغتیایي خدمتونو برابرول انعطاف منونکی حالت لري، او (ب) دغه تګلاره د هیواد په ولایتونو کې څه نا څه برابره ده. عمده لامل چې روغتیایي خدمتونه په دوام داره ښه او انعطاف لرونکي حالت وړاندې کیږي دا دی، چې غیر دولتي موسسو له سیمه بیزو ټولنو سره ښه ارتباطات او اړیکې ساتلې دي. همدارنګه دې ته په پام سره، چې موسسې خپل د اړتیا وړ کارکوونکي په معمولي بڼه له سیمه بیزو اوسیدونکو څخه استخدام کوي، نو د روغتیایي خدمتونو د څرنګوالي بربنسټ، هغوی کولی شي په ښه توګه له ځایي ستونزو سره جوړ جاړی وکړي. په هرحال، د بشپړ تحلیل او ارزونې لپاره اړتیا ده، چې یو شمیر متمم معلومات او بیلابیلې سرچینې او د سروې غوره بڼې پلې شي، ترڅو په نسبي توګه د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره په یوې تګلارې بشپړ قضاوت وشي.